# د ټاکنو خپلواک کميسيون پريکړه ليک

| | |
|---|---|
| د پريکړي شميره | ۴۰-۱۳۹۲ |
| موضوع: | د ټاکنو په بهير کي د رسنيزو سرغړونو شکايتونو ته د رسېدو، د غزني او فارياب ولايتونو د ولايتي شوراګانو د مستعفي وکيلانو د ځايناستو د معرفي، د ولايتی شوراګانو د اداري پلاوي د ټاکنو ترسره کولو او د باورليک ورکولو طرزالعمل. |
| مرجع | د ټاکنو خپلواکميسيون دارالانشا |
| د جلسي نېټه او ځای | ۱۳۹۲ کال د دلوې ۱۹ (۲۰۱۴ کال د فبروري ۸) د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمديوسف نورستانی، اغلي ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی محمدعزيز بختياري، ښاغلی قاضي سلېمان حامد، اغلي ليلا احراري او اغلي شريفه زرمتی وردک . |

## د ټاکنو خپلواک کميسيون پريکړه کړي چي:

۱. د ټاکنو قانون د ۶۱ مادي د ۵ فقري د حکمونو مطابق د ټاکنو په بهير کي رسنيزو سرغړونو ته د رسېدو طرزالعمل تايد او تصويب دی.

۲. د ټاکنو قانون د ۷۲ مادي د ۱ فقرې دحکم مطابق د ولايتي شوراګانو د څلورم کال پلاوی (د نويو ولايتي شوراګانو د کار تر پيل پورې)خپل کار ته ادامه ورکړي.

۳. د ټاکنو قانون د ۳۱ مادي د ۳فقرې د حکم مطابق د عزيزالله پويا پر ځای د ښاغلي نوروزعلي کريمي او د سيدعبيدالله پرځای د ښاغلي عارف الله واحدي غړيتوب د غزني ولايت د ولايتي شورا د غړو په توګه او د ښاغلي محمدابراهيم تينمس پرځای د ښاغلي محمدطاهر رحماني غړيتوب د فارياب ولايت د ولايتي شورا د غړي په توګه تايد او تصويب دی.

۴. د لاندينيو بسنتونو لپاره (چي کميسيون ته يي د مقرراتو مطابق د باورليک د ترلاسه کولو لپاره لازم اسناد برابر کړي او اړوند د چلند اصول يي هم لاسليک کړی دي په لاندې ترتيب باورليک ورکړل شي

### الف: د کتنې په موخه باورليک:

۱. د افغانستان د کارګرانو (کارګرو)ملي ټولنه.

۲. د افغانستان د ځوانانوعلمي او کلتوري سازمان.
۳. ..................

ب: د ځارنې په موخه باورلیک:

۱. د افغانستان د خلکو د ازادي غوښتونکو ګوند.
۲. د افغانستان حقیقت ګوند
۳. د جمهوري خواهانو ګوند

ج: د راپور برابرولو په موخه باورلیک:

۱. د افغان غږ اژانس
۲. سفیر تلویزون
۳. اریانا تلویزوني شبکه
۴. دریمه سترګه فوټو ژورنالیزم روزنیز مرکز
۵. رعنا د بازار موندنې او اعلاناتي خدمتونو شرک Ranna slimited. LLC راپور برابرول.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر محمدیوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریراحمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلېمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتی وردک | |